# آسیا فونډېشن (اسیا بنسټ) د افغانستان د خلکو سروې - ۲۰۱۵ مطبوعاتي خپرونه

**د افغانانو عامه نظر سنجونې د سیاسي لیږد، ناامنۍ او ټپي اقتصاد په اړه اندېښنې ښيې**

کابل، نومبر ۱۷، ۲۰۱۵ – په یوه لسیزه کې د هېواد عمومي لورې، شخصي خوندیتوب په هکله ډار او په حکومت باندې باور په بې ساري توګه ښکته شوې ده. افغانان ورځ تر بلې خرابېدونکی امنيتي وضعیت، وزګارتیا، او فساد ته د هغوی د بدبینۍ اصلي عوامل وايي. دا د اسیا بنسټ د کلني سروې په لړ کې چې د ۲۰۱۵ د جون له ۱۱ تر ۲۸، په ۳۴ ولایتونو کې د ۱۴ قومي ډلو په پام کې نیولو سره د ۹،۵۸۶ افغانانو سره تر شوي ده، لاس ته راغلي دي. د سږني کال د افغانستان د خلکو سروې د ځوانانو، داعش، ښځې په مشرۍ کې، مهاجرت او د موبایل ټیلفونونو د لاسرسي په تړاو پوښتنې هم رانغاړي. د سروې لنډیز، بیا بیا کیدونکې پوښتنې، او د تېرو لسو کلونو تحلیل دلته (http://asiafoundation.org/afghansurvey/) لوستلی شئ.

دا کلنۍ سروې چې د افغانانو د کړنو او نظریاتو په تړاو د هېواد په کچه تر ټولو اوږدمهاله او پراخه سروې ده، د هېواد د پراختیا په تړاو د مهمو مسائلو په برخه کې د افغانانو نظریات ارایه کوي. له ۲۰۰۴ راهیسې تر ۷۵،۰۰۰ ډېرو افغانانو سره مرکې شوي دي او ټول مواد یې عامه دي. د ۲۰۱۵ موندنې د هېواد چټک پراختیایي محیط په پام کې نیولو سره د افغانانو او نړیوالې ټولنې لپاره د اهمیت وړ دي.

د بنسټ د وروستي سروې وروسته چې د ۲۰۱۴ په جون کې ترسره شوه چې د ملت وضعیت ډېر پورته وو، له هغې سمدلاسه وروسته د افغانستان د ولسمشریزې ټاکنې ترسره شوې او خوشبیني ټیټه شوې ده. افغانستان د ټاکنو د یو لانجه من بهیر وروسته د ملي یووالي حکومت د تشکیل سره مخ شو؛ په داسې حال کې چې د هېواد اقتصاد مخ پر پرزیدو دی او نړیوالې مرستې او بهرنۍ پوځي لګښتونه پر ټیټیدو دي، د هېواد ټول امنيتي مسسولیتونه د افغاني ځواکونو په غاړه دي او د مخالفو وسله والو ډلو حملې ورځ تر بلې پر ډېرېدو دي.

په افغانستان کې د اسیا بنسټ استازی، عبدالله احمدزي وويل: "افغانستان په ۲۰۱۵ کې په یو وخت کې د امنیتي، سیاسي او اقتصادي لیږد سره مخ شو". "د دې ننګوونکونکي شاتګ سره سره د ۲۰۱۵ سروې د افغانانو ریښتیني انګیرنې او دا ناامیدۍ منعکسوي چې ولې نور پرمختګ شتون نه لري. د سروې پایلې دا ښیې چې خلک د حکومت پر ځواک شکمن دي څو وکولای شي نوموړو ننګونو ته په اغیزمنه توګه رسیدګي وکړي. همداراز دا سروې نړیوالې ټولنې او د سیمې ګاونډ هېوادونو ته یو څرګنده سګنال دی چې د افغانستان د سولې او ثبات د هڅو په لړ کې باید دوی له ثبات، حوصلې او ملاتړ څخه کار واخلي."

**د خوشبینۍ ټیټوالی او ورځ تر بلې د ډار ډېروالی**

د سږکال سروې ښیې چې د هېواد د عمومي لورې په تړاو د افغانانو خوشبیني تر ۲۰۱۴ پورې د یوې لسیزې ثابتې لوړوالي وروسته تر ټولو ټیټې ټکي ته ښکته شوی دی. تر نیمایي ډیر افغانان (۵۷.۵٪) په دې آند دي چې هېواد یې په ناسم لور روان دی. د هغو افغانانو شمېره چې د خپل ځان د خوندیتوب او مصئونیت څخه په ډار کې دي، د یوې لسیزې سروې له پیل څخه تر اوسه پورې تر دې کچې پورته نه وو او سږکال یې ریکارډ (۶۷.۴٪) جوړ کړ. همداراز د سروې پایلې دا جوته کړه چې ډېری افغانان په دې فکر دي چې افغان امنيتي ځواکونه د بهرنیو ځواکونو ملاتړ ته اړتیا لري- د ۲۰۱۵ په جون کې، ۸۲.۸٪ افغانان وايي چې افغان ملي اردو د بهرنیو ځواکونو ملاتړ ته اړتیا لري؛ ۸۰.۱٪ وايي چې افغان ملي پولیس د بهرنیو ځواکونو مرستو ته اړتیا لري؛ او ۷۰.۴٪ وايي چې افغان محلي پولیس بهرني ملاتړ ته اړتیا لري - چې دا ټولې شمېرې د ۲۰۱۴ په پرتله پورته دي. داعش د مصئونیت په تړاو د افغانانو پر پوهې اغیزه کړې ده: په هرو څلورو ځواب ورکوونکو کې شاوخوا درې وايي چې دوی د داعش په تړاو اوریدلي دي او ۴۰.۳٪ افغانان وايي چې دا ډله ګواښمنه ده.

**افغانان په خپلو دولتي بنسټونو باندې لږ باور لري**

د ملي وحدت د حکومت په تړاو عامه نظرسنجونې یو شان نه دي – د هغو سلنه چې وايي د ملي یووالي حکومت ښه کار کوي ۵۷.۸٪ ته ټیټه شوې ده په داسې حال کې چې دا سلنه په ۲۰۱۴ کې ۷۵.۳٪ وه چې هغه مهال ټاکنیزې ژمنې د حکومتولۍ او خدماتو په برخه کې د خلکو د امید کچه پورته کړې وه. د هغو افغانانو نسبت چې وايي په افغانستان کې د دموکراتیک بهیر څخه خوښ دي، هم له ۷۳.۱٪ څخه په ۲۰۱۴ کې ۵۷.۲٪ ته په ۲۰۱۵ کې ښکته شوې ده – چې دا شمېره نظر ټولو شمېرو ته ښکته ده. د سیمې په کچه هم د هغو افغانانو شمېره کمه شوې ده چې ګواکې دوی د سیمه ایز حکومت په پریکړو اغیزه لري، په ۲۰۱۴ کې له ۵۵.۹٪ تر ۴۴.۵٪ په ۲۰۱۵ کې. د حکومت لخوا د فساد د محدودولو د هڅو سره سره بیا هم ۸۹.۹٪ افغانان وايي چې فساد د دوی په ژوند کې یوه لویه ستونزه ده او د ۲۰۰۴ راهیسې سږکال تر ټولو لوړه سلنه ثبت شوې ده.

**افغانان تر اوسه هم د عامه خدماتو د عرضې او ارایې څخه خوشاله نه دي**

د ۲۰۰۴ کال راهیسې د سروې ارقام ښیې چې افغانانو د بنسټیزو حکومتي خدماتو په عرضې کې پرمختګ درلود. په ځانګړې توګه د برښنا او څښاک اوبو څخه خوښي په ثابته توګه پورته شوې ده، خو د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ په منځ کې د ډېریو خدماتو په اړه رضایت ډېر ټیټ شوی دی. ۵۶.۳٪ افغانان وايي چې عامه خدمات ـ برښنا، سړکونه، څښاک اوبه، پوهنه، روغتیایي پاملرنه او د کرنې اوبه - یو له معمولو ستونزو

دي چې د سیمې په کچه افغانان ورسره لاس او ګریوان دي او دا چې دا د ټول هېواد په کچه هم یوه لویه ستونزه ګڼل کیږي. په ۲۰۱۵ کې کله چې د یو شمېر عامه خدماتو په تړاو پوښتنې مطرح شوې، د افغانانو یوه لوړه شمېره (۷۱.۸٪) د ځښاک له اوبو څخه خوښې وښووده چې دا شمېره د ۲۰۰۶ راهیسې یوه اوږدمهاله پراختیا ګڼل کېږي. پوهنه د افغانانو لپاره خورا اړینه ده - او ۶۷.۸٪ ځواب ورکوونکي په خپلې سیمې کې د پوهنې له کیفیته خوښ دي، خو سږکال د ۲۰۱۴ راهیسې په ټولو سیمو کې د پوهنې په اړه د خلکو رضایت ټیټ شوی وو.

د اسیا بنسټ مشر، ډیوډ اَی آرنولډ وایي چې: "کلنۍ سروې د یو هېواد انځور ارایه کوي چې د فوق العاده بدلون سره مخ وي، او هغه انګیرنې، امیدونه او تجربې چې له دې بدلون سره مل وي". "کال په کال، دا سروې ښیي چې د بنسټیزو عامه خدماتو عرضه -روغتیا، پوهنه، سرکونه، ځښاک اوبه، پاکوالی- د خلکو په ذهنونو کې د دولت د ځواک د باوري کیدلو لپاره خورا اړین دي او تشدد، بې ثباتۍ او اسیب پذیرۍ د دولت ضد کارونه ګڼل کیږي. "

**ځوانان وایي چې وزګارتیا او بې سوادي لویې ننګونې دي؛ د رسنیو او معلوماتو ډېره لاسرسي خلکو ته هیله ورکوي**

د افغانستان شاوخوا نیمایي اوسیدونکي له ۱۸ کلونو کوچني دي، چې دا سلنه په ټوله نړۍ کې ساری نه لري. د بهرنیو ځواکونو د مرستو د کمیدو سره افغانان وایي چې وزګارتیا (۷۱.۴٪) او بې سوادي (۲۶.۵٪) هغه دوه لویې ستونزې دي چې د دوی ځوانان ورسره مخ دي. خو له دې سره سره بیا د افغانستان د رسنیو پراختیا او د مالوماتو د سرچینو ډېروالی د خوشبینۍ یوه سرچینه ده چې د خلکو د فکرونو په تنظیمولو کې مرسته کوي. رسنۍ (۶۶.۶٪) د مذهبي مشرانو (۶۴.۳٪) تر څنګ تر ټولو د اعتبار وړ بنسټ دی او له حکومتي بنسټونو او انجوګانو مخکښ دي. په ۲۰۱۵ کې، ۶۲.۱٪ افغاني کورنۍ ټلویزیونونه لري چې دا شمېره د تېرو اتو کلونو په پرتله دوه چنده شوې ده. ډېری افغانان (۸۲.۳٪) وایي چې په کور کې لږ تر لږه یو ټیلفون لري چې دا شمېره په ۲۰۰۷ کې ۴۱.۵٪ ته رسیده؛ او ۲۱.۰٪ وایي چې په کور کې یې داسې څوک شته چې انټرنټ ته لاسرسي ولري.

**ښځې له خپلو حقوقو خبرې دي خو بیا هم د وزګارتیا او بې سوادۍ له امله محدودې دي**

سږکال افغانې ښځې له ډېرو مهمو پړاوونو، موکو او خفګانونو سره مخ شولې. که مثبتې خوا ته پام وکړو، نو په ۲۰۱۵ کال کې ښځې د افغانستان په سیاست کې ښې لاس ته راوړنې درلودې: اوسمهال په کابینې کې څلور ښځینه وزیرانې شته دي او د حکومت لخوا دوه ښځینه والیانې وټاکل شوې. افغانې ښځې ورځ تر بلې د خپلو حقوقو په تړاو پوهېږي او په دې خبر دي چې د کورنې ستونزو په وخت کې له کومو بنسټونو سره اړیکې ټینګې کړي. کابو ټول افغانان (۹۳.۶٪) له دې ملاتړ کوي چې ښځو ته باید په اسلامي مدرسو کې برابر لاسرسی ورکړل شي او یوه لویه شمېره له دې ملاتړ کوي چې ښځې باید لومړني ښوونځیو (۸۴.۵٪)، لوړ ښوونځیو (۸۲.۸٪) او پوهنتونونو (۷۳.۸٪) ته لاسرسي ولري. خو بیا هم، د فرخندې قضیه او په کندز کې د پوهو او سیاسي فعالو ښځو په وړاندې وروستي حملې د ښځو په وړاندې شته ننګونې روښانوي. د تېرو کلونو په څېر، افغانان د ښځو په وړاندې د پوهنې او بې سوادۍ (۲۰.۴٪) او وزګارتیا/د کاري موکو کمښت (۱۱.۳٪) ته د دوو لویو ستونزو په توګه ګوته نیسي.

د سروې ارقامو د بستو او مالوماتي ګرافونو لپاره دلته (http://asiafoundation.org/afghansurvey/) مراجعه وکړئ.
مرکه په (#AfghanSurvey) کې تعقیب کړئ.

**په افغانستان کې د اسیا بنسټ په هکله**

د اسیا بنسټ یو غیرانتفاعي نړیوال پراختیایي بنسټ دی او د مخ پر ودې او خوځنده اسیا په لویه وچه کې د ژوندانه د وضعیت د سمون هوډ لري. اسیا بنسټ په ۱۳۳۳ هجري لمریز (۱۹۵۴ ز) کې په افغانستان کې په فعالیت پیل وکړ او په ۱۳۸۱ (۲۰۰۲ ز) کې یې بیا خپل دفتر په کابل کې پرانیست. له هماغه وخته راهیسې اسیا بنسټ له مرکزي حکومت او ولایتي ادارو سره خپلې مرستې کړي او د یوې با ثباته او هوسا ټولنې په جوړولو کې یې له افغانانو سره مرستې کړې دي. زموږ پروګرامونه د سیمه ایزې حکومتولۍ په پراختیا او د اجرائیه ځواک د مهمو ارګانونو پر پیاوړي کولو تمرکز لري، او د مدني تعلیماتو، د ښځو د ځواکمنولو، تعلیم او تحصیل، اسلام او پراختیا، او آزادو او عادلانه ټاکنو څخه ملاتړ کوي.